دریمه کچه

# په ځنګل کې ګرځېدل



**لیکوال:** سیجل مېهتا
**انځورګر:** برکها لوهیا

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



لمر په مېزورام (Mizoram) کې په
راختو دی، وړانګې یې د ډامپا د پړانګانو
طبیعي پارک     Dampa Tiger)
(Reserve کې د ژوند ساه پو کوي.

د بانس ونې د تنګو ختېنو لارو د پاسه
خپلو کې څنګ په څنګ لوړې دنګې
ولاړې دي. د سېلنګ سیند یې څنګ ته
شنهار کوي، بهېږي.

خوځنده چترۍ داسې پورته خېژي ګواکې
اسمان سره ملاقات کوي.د سهارنۍ پرخې
څاڅکي د ځنګل پر ځمکه لوېږي چې د
سبایي په چوپه چوپتیا کې نرم نرم ټپ
ټپ غږونه جوړوي.




نه، چوپه چوپتیا نه. بیا هم، کیدای
شي. ارامه، یقیناً.
خو چوپ چاپ نه.
ځنګلونه خاموش ځایونه نه دي.



چورچورکې چرېږي.
غټ غټ دارکوب مارغان (woodpeckers) د ونې له څوکو څخه قُت قُت کوي.
هولاک ګېبون بیزوګانې (hoolock gibbons) په ګډه غورېږي. د ستر هندي ښکرمښوکي (hornbill) مارغانو چيغار په ځنګل کې انګازې کوي.

سهار د بشپړ همغاړيتوب درلودونکې اورکسټرا (د موسيقۍ اوزار) په څېر غوړېږي، چې په ترځ کې د ځنګله ټول استوګن په يوه غږ زمزمه کوي "سهار مو نېکمرغه، زه پاڅېدلی يم!"

د شور او ځوږ په دې ژوندۍ ګډوډۍ کې، د ځنګل يو ساتونکی سخت په کار کې بوخت دی.



آدم خان سیند ته څېرمه ایښې د عکاسۍ کمرې لومه (د څارنې وسایل) ګوري.

هغه د میزورام د ځنګل ریاست د ناقانونه ښکار ضد ټیم سره یو ساتونکی (محافظ) دی. هغه هره ورځ په ځنګل کې ګزمه وهي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې هیڅوک یا هیڅ شی ځنګل ته زیان نه رسوي. د عکاسۍ کمرې لومه (د څارنې وسایل) له هغه سره حتی د شپې هم، کله چې هغه په کمپ کې ژور ویده وي، په پېره دارۍ کې مرسته کوي.



آدم خان د تېرې ورځې د عکاسۍ کمرې لومې ويډيو په تېرولو سره ګوري. قبرکن ګراز ( A hog badger) په ناخبرۍ کې ثبت شوی دی. د يوه چيغې سورې وهونکې هوسۍ اوږده پوزه هم.

آدم خان مسکی کېږي. همدا هغه وړې وړې شېبې دی چې هغه ترې خوند اخلي. هغه دې ځنګل او هر هغه څه سره، چې دې کې اوسېږي، مينه لري. داسې برېښي چې دا يوه عادي شپه وه.



آدم خان د ژوو د چلند د معلومولو د یوې طریقې په توګه عکاسۍ سره مینه لري. نو کله چې هغه ګزمه وهي، هغه په خپله شخصي کمره عکسونه اخلي او ویډیو ثبتوي.

وروسته بیا هغه دا انځورونه او کیسې د میزورام خلکو او همدارنګه له هغه خلکو سره شریکوي چې ډېر لېرې اوسېږي. په هر صورت، د هندوستان د شمال ختیځو ځنګلونو په اړه ډېر لږ معلومات شتون لري.



آدم خان توانېدلی دی چې د نادرو ژوو عکسونه هم واخلي چې پکې خړ طاووس مارغه او حتی کمیابه وريځ-رنګه پړانګ هم شامل دي.

هغه اوس پوهېږي چې وريځ-رنګه پړانګ يو ماهر ختونکی دی او د پام وړ اوږدې داړې لري.



یوه شېبه!

دا څه وو؟

آدم خان ویډیو ته ځیر کېږي – درې
سړي په تیاره کې پټ پټ روان دي.

هغه دا ویډیو بیاځلې ګوري.



آدم خان د عکاسۍ کمره ببرته پر خپل ځای ږدي او شاوخوا د هغه نښو نښانو پیدا کولو ته مخه کوي چې ښايي هغه سړو شا ته پرېښې وي.

هغه په دې چرت کې دی چې آیا هغه کسان خو به د حایل زون د کلي، له طبیعي پارک سره پوله درلودونکې سیمه ده، نه وي. میزوس، ریانګز او چکماس*  خپلونه (قبیلې) د ډامپا شاوخوا اوسېږي. کله کله هغوی ځنګل ته د لرګیو، یا د کبانونو نیولو یا د ژوو د ښکار لپاره ننوځي، که څه هم دغه فعالیتونه ممنوع دي.

* میزوس، ریانګز او چکماس د شمال ختیځ هندوستان بومي قبیلې دي.

آدم خان او ټیم یې د ځنګل پر وړاندې د یوه بل ګواښ په اړه اندېښمن
دي. خلک اوس د خرما ونې ډېرې نیالوي،
ځکه چې د خرما مېوې څخه لاسته راتلونکې تېل په فوري
توګه د عاید د لاسته راوړلو زمینه برابروي.

د دغه کروندو لپاره د ځای برابرول ښايي ټول ځنګل له منځه یوسي. د
ځنګل ریاست د ځنګل او د دې د وحشي ژوند ساتنې د ارزښت په اړه،
او همدا رنګه د سرغړوونکو لپاره د جزاګانو په اړه د عامه پوهاوي
پیغامونه خپروي.

خو آدم خان پوهېږي چې بدلون به وخت نیسي.








آدم خان د سیند په غاړه په چټکۍ سره روان دی. هغه یو شی ویني چې دی پې تم کولو ته اړ ایست. د ښکاریانو له خوا ایښودل شوی یو دام.

د دام په پړو کې نښتې یوه چیغې وهونکې هوسۍ.
د آدام خان زړه هوسۍ سره ډېر زهیر شو. مهمه نه ده چې هغه به څو ځلې داسې وضعیت سره مخ شوی وي، په درد کې ایسار یو ځاروی اوس هم هغه ته تکلیف رسوي.



هغه په احتیاط سره ډارېدلې هوسۍ
ته نژدې کېږي. څاروی د تېښتې د
هڅو کولو څخه هم نور وتلی دی،
خو شکر چې لا هم ژوندی دی.
آدم خان په چټکۍ سره لاس په کار
کېږي. هغه خپل ریاست ته د
مرستې لپاره مخابره کوي، او په
ورته وخت کې د هوسۍ د کرارولو
هڅه کوي.

مرسته رارسېږي او ساتونکي په
احتیاط سره دام پرېکوي، تر څو
څاروي ته ضرر و نه رسېږي.



هوسۍ، بالاخره په ازادېدو سره، په ټوپونو او خېزونو ځنګل ته درومي.
هر سړی راحت شو – هوسۍ به هم ښه شي!
خو لا هم کار شته دی چې باید ترسره شي.



ښکاريان به د دام د احوال اخيستلو
لپاره بېرته راځي. نو، د ځنګل ځينې
ساتونکي پټېږي او انتظار کوي. په داسې
حال کې چې تياره خپرېږي او رڼا په تتېدو
ده، باد ټيټ، او غلي غږونه تر دوی
رارسوي.

آدم خان د عکاسۍ کمرې د
جال/لومې ويډيو څخه هغه ۳ کسان
پېژني.

ښکاريان د ټوکر کڅوړې په لاس غلي غلي
په دې هيله نږدې راځي چې خپل نيول
شوی مال به له ځان سره يوسي.




مخکې له دې چې هغوی وتښتي، آدم خان او ټیم یې هغوی محاصره کوي.

ښکاریان نیول کېږي او بېرته کمپ ته رسول کېږي. خبره په چټکۍ سره پای ته رسېدلې ده! په کمپ کې چارواکي به له هغوی څخه پوښتنې کوي.

تیاره په ډامپا خپرېږي، په داسې حال کې چې آدم خان په رېونده
او غریزه ځمکه حرکت کوي او د ونو او بانسونو ترمنځ په خپله
لار بېرته ستنېږي.

هغه د بانسونو د غنګېدو غږونو د اورېدلو لپاره تم کېږي.
داسې برېښي چې هغوی له ده سره خبرې کوي.








دا د طبیعت رازونه دي، دا د هېښوونکي ښایست شیان دي چې آدم خان هره ورځ د ځنګل ساتلو لپاره هڅوي. دا آسانه کار نه دی –په سرحد جګړه ده، ښکاریان دي چې تاوتریخوالي ته مخه کوي، او د هغه لړ معاش مبارزه ده چې دی یې ګټي.



خو د هغه لپاره، دا هر څه د هغه د معمول کارونو څخه دي.
آدم خان د ځنګل دی او ځنګل د هغه دی.



# آدم خان سره وګورئ

آدم خان په میزورام کې د ډامپا د پړانګونو طبیعي پارک کې د میزورام ځنګل ریاست سره د ځنګل د ساتونکي او د وحشي ژوند د عکاس په توګه دنده ترسره کوي. دا طبیعي پارک د هند د پړانګانو د استوګنې یو له تر ټولو لېرې پرتو ځنګلونو څخه دی چې ډېره ستونزمنه سیمه ګڼل کېږي.

آدم خان یو ځان روزلی عکاس دی. هغه د ډامپا د بیولوژیکي تنوع یوه ارزښتناکه ارشیف ترتیب کړی دی چې بېلګې یې په لاندې ډول دي:
نباتات، ژوې، حشرې، ذوحیاتین، خزندګان، مارغان، خزې (یعنې بې پاڼو او ریښو نباتات) او
چڼاسکې.

## لارښودونکې پوښتنې

1. ستاسې په اند ولې د ځنګل ساتونکي په اوسنۍ نړۍ کې مهم نقش لوبوي؟
2. تاسې به آدم خان په خپلو ټکو کې څنګه تشریح کړئ؟ آیا ستاسې په اند هغه خپله دنده خوښوي؟
3. که تاسې د ځنګل ساتونکی وئ، تاسې به د حیواناتو او ونو د ساتنې لپاره کومې نوې طریقې پیشنهاد کړې وې؟
4. آیا ستاسې په سیمه کې خلک د ژوو ښکار کوي؟ ستاسې په هیواد کې خلکو د وحشي/ځنګلي ژوند د ساتنې لپاره کوم ګامونه اوچت کړي دي؟
5. تاسې او ستاسې ملګري د ځنګلي ژوند د ساتنې لپاره څه کولای شئ؟